NHS

UK Health Security Agency

# د لویانو لپاره د RSV واکسین په اړه ستاسو لارښود



څنګه کولی شئ د RSV واکسین په واسطه ځان د تنفسي ناروغیو پروړاندې خوندي کړئ

د لاندې اشخاصو لپاره د RSV واکسین په اړه معلومات:

- هغه اشخاص چې د 2024 کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه یا له هغې وروسته 75 کلنۍ ته رسي
- هغه اشخاص چې د 2024 کال د سپتمبر 1ۍ یې عمر د 75 او 79 کلونو ترمنځ وي

A guide to the RSV vaccine for older adults - leaflet - Pashto.indd 1 22/07/2024 12:10:51

## RSV څه ډول یو واکسین دی

Syncytial تنفسي وایروس (RSV) یو ډول ساري ناروغي ده چې تنفسي سیستم او سږي تر حملې لاندې نیسي د RSV ناروغۍ اعراض او علائم ډېری وخت د والګي په شان وي چې په هغې کې ټوخی، د ستوني خوږ، پرنجی، د پوزې بهېدل او بندېدل شامل دي. همدارنګه دغه ناروغي کولی شي تاسو ته د سینه بندۍ یا سا لنډۍ ستونزې هم رامنځ کړي او د کمخونۍ او نورو هغو ناروغیو لامل شي چې ژوند تهدیدوي. دغه ناروغي کومه ځانګړې درملنه نه لري او ډېری وخت شاۍ په دغې ناروغۍ اخته شخص پخپله روغ شي. هر کال په زرګونو ځوانان/تنکي ځوانان د RSV ناروغۍ له امله درملنې یا مراقبت ته اړتیا لري او ځینې پکې شاۍ خپل ژوند له لاسه ورکړي. RSV ناروغي شاۍ په ډېری هغو اشخاصو کې جدي و اوسي چې ناوړه روغتیایي حالت لکه د زړه یا سږي ناروغي او د بدن کمزوري دفاعي سیستم لري.

RSV ناروغي په تنکیو ماشومانو کې یو څه عامه ده خو د کوچنیو ماشومانو او د لوړ عمر لرونکو اشخاصو لپاره جدي ګڼل کېږي.

## څنګه په RSV ناروغۍ اخته کېږئ

RSV ناروغي کېدی شي د کال په هره برخه کې رامنځ ته شي خو شدت یې هر کال په ژمي کې وي.

RSV ناروغي کېدی شي د ټوخي او پرنجي له لارې انتقال شي. تاسو کولی شئ د ټوخي او پرنجي پرمهال د خپلې خولې او پوزې په پوښلو سره (چې معمولا د پوزې په ورستی برخه کې د یوه دستمال په واسطه کېږي) د دغې ناروغۍ د انتقال مخنیوی وکړئ، او تاسو کولی شئ په مکرر ډول د خپلو لاسونو په مینځلو سره د یادې ناروغۍ د شدت مخنیوی وکړئ. حتی د دغو تدابیرو په مراعات کولو سره هم کېدی شي په RSV د اخته کېدی مخنیوی سخت وي.

د ځان مصؤنولو لپاره ترټولو غوره لاره د واکسینو تطبیق دی.

## واکسین په بدن کې څنګه فعالیت کوي

تقریبا ټول لویان/بالغ اشخاص به په خپل ژوند کې په RSV ناورغۍ اخته کېږي. کله چې تاسو د هغو اشخاصو په کټګورۍ کې راځئ چې د لوړ ګواښ سره مخ دي، نو د دغو واکسینو د یو دوز تطبیق به مرسته وکړي چې ستاسو د مصؤنیت یا خوندیتابه کچه لوړه کړي.

## آیا د دغو واکسینو د تطبیق لپاره نور په شرائطو برابر کسان هم شته

دغه راز مېندواره ښځې هم کولی شي دغه واکسین تطبیق کړي ترڅو د وکولی شي خپل ماشومان د RSV پرورلندې مصؤن کړي. د مېندواره ښځو لپاره د دغه واکسین د تطبیق په اړه نور معلومات په لاندې لینک کې ولولئ:

**www.gov.uk/government/publications/respiratory-syncytial-virus-rsv-maternal-vaccination**



## آیا اړتیا ده چې هر کال دغه واکسین تطبیق شي

نه، د دغو واکسینو یو دوز کولی شي تاسو ته څو کاله مصؤنیت په برخه کړي.



### کوم کسان باید RSV واکسین تطبیق کړي

هر هغه شخص ته به چې عمر یې د 2024 م کال د سپتمبر په 1 ی نېټه یا له هغې وروسته شاوخوا 75 کالو ته رسي، د RSV واکسین ورکړل شي. دا ځکه چې لویان د نورو په پرتله د RSV د جدي ګواښ سره مخ وي. کله چې ستاسو 80 کلنۍ ته یوه ورځ هم پاتې وي، کولی شئ دغه واکسین تطبیق کړئ.

د پروګرام په لومړي کال به دغه واکسین هغو اشخاصو ته هم توصیه کېږي چې د 2024 کال د سپتمبر په 1ی نېټه یې عمرونه 75 یا 79 کلونو ته رسېدلي وي.

## آیا هغه اشخاص چې عمرونه یې تر 75 کلونو ټیټ دي، کولی شي دغه واکسین تطبیق کړي

بالغو یا ځوانو خلکو ته به دغه واکسین معمولا هغه وخت وړاندیز کېږي چې عمرونه یې 75 کلنۍ ته رسي.

## آیا کولی شم د خپلو COVID-19 (کوویډ-19) یا والګي واکسین سره هم مهاله د RSV واکسین وکړم

RSV واکسین معمولا د COVID-19 یا والګي هغې سره هم مهاله نه تطبیقېږي.

په ځانګړو روغتیایي حالاتو کې ستاسو ډاکټر یا ستاسو نرس کولی شي دغه واکسین هم مهاله تطبیق کړي.

## آیا کولی شم RSV واکسین د shingles او pneumococcal واکسینونو سره هم مهاله تطبیق کړم

هو، تاسو کولی شئ دغه واکسینونه هم مهاله وکړئ.

## آیا داسې کسان هم شته چې نه شي کولی دغه واکسین تطبیق کړي

تقریبا هر سړی کولی شي دغه واکسین تطبیق کړي، خو که چېرې مو په تېره کې واکسینو یا د هغې د کوم ترکیب سره جدي حساسیت کړی وي نو په دې اړه له مخکې خپل ډاکټر یا نرس ته ووایئ.

که چېرې تاسو  خفیفه ناروغي لکه زکام او داسې نور لرئ، کولی شي واکسین تطبیق کړئ، خو که چېرې مو روغتیایي وضعیت ډېر خراب وي یا تبه لرئ، نو په دې صورت کې شاید ستاسو ډاکټر تاسو ته سپارښتنه وکړي چې صبر وکړئ او جوړ شئ.

## آیا دغه واکسین به ما په بشپړ ډول مصؤن کړي

د واکسینو تطبیق دا ثابته کړې ده چې د RSV ناورغی له امله د رنځېدو کچه راټیټوي. لکه د نورو هر ډول درملو په شان، دغه واکسین هم په بشپړ ډول اغېزمن نه دي او شاېي ځینې هغه کسان چې یاد واکسین یې کړي هم وي، په دغې ناروغی اخته شي. که چېرې تاسو واکسین کړي وي او په دغې ناروغی اخته شئ، نو باید په آسانۍ سره درباندې تېره شي.

## د دغه واکسینو په تطبیق سره به د څومره وخت لپاره مصؤن پاتې کېږم

د کلینیکي یا طبي څېړنو پرمهال ثابته شوې ده چې دغه واکسین حداقل د 2 کلونو لپاره یا شاېي تر دې هم د ډېرې مودې لپاره غوره مصؤنیت رامنځ ته کړي.

## آیا د دغو واکسینو په تطبیق سره به جانبي عوارض ولرو

کېدی شي د تزریق یا پیچکاري په ساحه کې یو څه تخریش یا سوروالی رامنځ ته شي چې دغه ستونزه د یوې یا دوو ورځو په موده کې له منځ ځي.

دغه واکسین د امریکا په متحده ایالاتو کې د لومړي فصل په جریان کې تر 3 ملیونه دوزه ډېر تطبیق شوی دی. په هرو یو ملیون کسانو کې 5 هغه یې داسې وو چې په عصبي سیستم کې یې اختلال رامنځ ته شوی وو. دې ته ورته حالت له یو لړ عامه ناروغیو او واکسینو له تطبیق وروسته هم رامنځ ته شو او خو په ټوله کې دغه واکسین ستاسو لپاره مصؤن دي او تر هغې چې په شدیده RSV اخته شئ غوره ګڼل کېږي.

## اوس زه باید څه وکړم

NHS یا د بریتانیا د عامې روغتیا وزارت تاسو ته بلنه درکوي چې کله مو عمر 75 کلنۍ ته رسي یا هم له دې مخکې 75 یا 79 کلن شوي یاست، باید دغه واکسین وکړئ.

## څنګه کولی شم په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړم

د خپل نرس، GP یا هم خپل روغتیایي ټیم سره په دې اړه خبرې وکړئ. دغه راز تاسو کولی شئ د RSV واکسین په اړه چې د Abrysvo په نامه هم یادېږي، د ناروغ معلوماتي لارښود په لاندې لینک کې هم پیدا کړئ:

**www.medicines.org.uk/emc/product/15309/pil**

تاسو کولی شئ د مشکوکو جانبي عوارض په اړه په Yellow Card ویب پاڼه کې او یا هم 0800 731 6789 شمېرې ته د زنګ وهلو له لارې چې له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9am د ماذیګر تر 5pm پورې په وړیا ډول د لاسرسي وړ ده، خپل راپور ثبت کړئ.

**www.mhra.gov.uk/yellowcard**

© Crown copyright 2024. Version 1. UK Health Security Agency Gateway Number 2024-262. Product code: C24RSV01PAS Pashto.
1P 130k JULY 2024 (APS). To order more copies of this asset, please visit: www.healthpublications.gov.uk or call 0300 123 1002.
This leaflet is available as a BSL video, and audio file, in braille, large print and translated into 30 community languages.

A guide to the RSV vaccine for older adults - leaflet - Pashto.indd 4 22/07/2024 12:10:56